# شریعت
SHARIAT WEEKLY
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپریږی
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان
څلورم کال دري اوپايمه گنه پرله پسي (٢٦٣) يكشنبه د ١٤٢٠هـ ق كال د جمادي الثاني (٢٣) د١٣٧٨هـ ش كال د تلي دمياشتي(١١) د١٩٩٩ميلادي كال د اكتوبر (٢)


قرار گزارشات منابع موثق خبري :

# مسعود بارديگر به آغوش حاميان خارجي خود پناهنده شد

## نماينده گان روسيه و چند كشور ديگر مداخله گر ويرا در آغوش گرفتند

منابع خبري بين المللي : بنا بر گزارشات منابع موثق خبري بين المللي احمد شاه مسعود آمر مليشه هاي نظار غرض دريافت كمك هاي نظامي بار ديگر به آغوش حاميان خارجي خود پناه برده است، موصوف در شهر كولاب تاجكستان رسيده و غرض اكمال و تقويه مجدد خويش با نماينده گان روسيه، تاجكستان و چند كشور ديگر مداخله گر ديدار نموده و از آنها خواستار كمكهاي عاجل نظامي گرديده است، منبع مي افزايد، اين در حالي است كه مسعود و هوادارانش از تداوم حاكميت ظالمانه شان در گوشه اي از افغانستان نيز نا اميد شده و حالا بر هر قيمتيكه باشد ميخواهد تا دو باره در داخل افغانستان براي خود جاي پاي دريابد. شايد اجنبيان خصوصاً روسها كه آتش انتقام شكست هاي شان در افغانستان هنوز شعله ور بوده و با ملت مجاهد افغان دشمني آشتي ناپذير دارد براي مسعود وعده كمك نموده باشد اما ناظرين اوضاع معتقد اند در حاليكه خود ارتش سرخ در افغانستان بر عليه ملت مسلمان افغانستان چيزي كرده ص ٤

### الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډير نږدي دی تقوا(پرهيزگاری) ته .
(سورة المائدة)

### توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

---

افغانان مهاجر مقيم كشور هاي اروپايي :

# امارت اسلامي افغانستان را برسميت بشناسند

سازمان ملل متحد و مجامع بين المللي بايد

## نبايد بيش از اين با شناخت غير قانوني حكومت فراري رباني ملت مجاهد افغان را رنج داد

## امارت اسلامي افغانستان يگانه حكومت قوي و قانوني در كشور بوده و خواسته هاي همگاني ملت را بر آورده ساخته است

افغانهاي مهاجر مقيم كشور هاي اروپايي اخيراً طي ارسال نامه هاي جداگانه عنواني سرمنشي سازمان ملل متحد اتحاديه اروپايي و رئيس جمهور امريكا خواستار برسميت شناختن امارت اسلامي افغانستان گرديدند.

آژانس اطلاعاتي باختر به تائيد از نامه ارسال ي افغان هاي مقيم كشور هاي اروپايي خبر ميدهد كه در پيام هاي جداگانه و سرگشاده كه عنواني شاغلي كوفي عنان سر منشي سازمان ملل متحد ، منشي اتحاديه اروپايي در بروكسل و بل كلنتن رئيس جمهور ايالات متحده امريكا از سوي افغانهاي مقيم كشور هاي اروپايي ارسال گرديده است تذكر داده شده كه سازمان ملل متحد و مجامع بين المللي با در نظر داشت مشكلات مردم افغانستان چوكي نماينده گي افغانستان در سازمان ملل متحد را بايد به نماينده گان واقعي ملت مجاهد افغانستان سپرده و امارت اسلامي را برسميت بشناسند.

درين نامه تذكر رفته است كه امارت اسلامي افغانستان يگانه حكومت قوي و قانوني در كشور بوده و پس از چندين سال توانسته حقوق همه اتباع كشور را تامين و در بيش از نود فيصد خاك كشور صلح و امنيت را كه خواست همگاني مردم ميباشد تحكيم بخشد.

همچنان در پيام افزوده شده كه ص ٤

### سنگ تهداب يك پل جديد در مركز ولايت ميدان وردك گذاشته شد

سنگ تهداب اعمار يك پل جديد در قريه خروتي واقع مركز ولايت ميدان وردك ديروز طي مراسمي گذاشته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : پل متذكره كه به همكاري مالي مردم منطقه و مساعدت موسسه پاملرنه بطور پخته و اساسي اعمار ميگردد با اعمار آن زمينه انتقال سنگ مرمر از آنولايت به شهر كابل فراهم خواهد گشت

همچنان با اعمار پل مذكور نيازمنديهاي مردم منطقه نيز از لحاظ ترانسپورتي مرفوع ميگردد.

سنگ تهداب اعمار پل ياد شده ديروز در حاليكه محترم مولوي حفيظ الله ص ٤

---

# روسيه بر جمهوري مستقل چيچن تجاوز نظامي نمود

گروزني : روسيه پس از آمادگي كامل نظامي، از سه جانب بر جمهوريت مستقل چيچن تجاوز كرد .

قواي روسي بيش از بيست كيلو متر بداخل قلمرو چيچن پيشروي كرده ولي عكس العمل حكومت اين جمهوري تا بحال معلوم نبوده اما قبلاً هشدار داده كه در صورت هرگونه تهديد پاسخ قاطع خواهد داد .

روسيه اعلان كرد كه حكومت اسلان مسخدوف رئيس جمهور چيچن را برسميت شناخته و تحركات و فعاليت هاي ص ٤

### باز سازي سيستم انرژي برقي فابريكه پشمينه بافي افغان حدود ٧٠ فيصد انجام گرديده است

به ادامه احيا مؤسسات توليدي كه يكي از اهداف مهم امارت اسلامي كشور ميباشد درين اواخر پروسه برق رساني فابريكه پشمينه بافي افغان مربوط وزارت معادن و صنايع و پنج فابريكه كشمش پاكي و كارس ... در روشني هدايت خاص مقام رهبري وزارت معادن و صنايع و سعي و تلاش منسوبين پشمينه بافي افغـ... به همكاري وزارت محترم انرژي برق ص ٤

### در شهر گرديز يكپايه جنراتور مولد برق فعال گرديد

يكپايه جنراتور مولد برق بقدرت دو صد كيلو وات جديداً در مربوطات شهر گرديز فعال و مورد بهره برداري قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : بيش از يكصدو پنجاه فاميل و ادارات امارتي شهر گرديز كه قبلاً با نصب و فعال شدن يك پايه جنراتور به قدرت سه صد كيلو وات تنوير گرديده بود اخيراً با نصب يك پايه جنراتور ديگر بقدرت دو صد كيلو وات علاوه از شهر گرديز ساحات پنج كيلو متري آن نيز از نعمت انرژي برق مستفيد ص ٤

---

د هند د سمندري ځواكونو پخواني مشر :

### د هندوستان له خوا د اتومي وسلو د درلودلو دعوي فقط يوه ټوكه ده

نوي ډيلي : ( اي ، ان، ان) د هندوستان د سمندري ځواكونو پخواني مشر نباغلي وشنو بهگوت ځرگنده كړېده چي له هندوستان سره د اتومي تكنالوجي اساسي مواد اصلاً وجود نلري او د هندوستان د واكمنو لخوا د ص ٤

د افغان - ترك د مدرسو عمومي رئيس محترم جلال الدين اوزر :

# افغانان د لوړ استعداد درلودونكي دي

شريعت : دا چي په افغانستان كي د اسلامي امارت له بركته د سولي او امنيت تر ټينگښت وروسته د بهرنيو خدماتي موسسو لپاره هم د كار لازمه فضا برابره شوي د تركيي هيواد د مسلمانانو څخه تنو علم پالونكو شخصيتونو هم زموږ د هيواد د بچيانو د ښوونې او روزنې په برخه كي ځيني موثر گامونه اوچت كړي ستاسي د ٤ مخ

---

### د طبي علومو له اكادمي سره د ديرش زره سي سي ويني مرسته وشوه

له اړو ناروغانو سره د مرستي په خاطر ديرش زره سي سي وينه د طبي علومو اكادمي ته وركړ شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ په چك وردك كي د حضرت عمر فاروق «رض» مدرسي يو شمير طالب العلمانو له اړو ناروغانو سره د مرستي په خاطر خپله ديرش زره سي سي وينه د طبي علومو اكادمي د ويني بانك ته وركړه .

### د متحده ايالاتو له لوري : په چيچين باندي د روسيي د بريدونو له امله ژوره انديښنه ځرگنده شوه

د امريكا متحده ايالاتو په چيچين باندي د روسيي د بريدونو له امله خپله ژوره انديښنه ځرگنده كړېده .

د نړيوالو خبري منابعو د خبر له مخي د دغه هيواد حكومت په ورځ په ورځ ص ٤

### از مدرك اجاره حق العبور سمت شرق كابل مبلغ ٣٣٨٢٨٤٠٠٠ افغاني عوايد بدست آمده است

محترم رئيس ناحيه نهم شاروالي كابل

شريعت : خوانندگان گرامي ! خبرنگار ما جهت تهيه گزارشات از ادارات مختلف امارت اسلامي افغانستان اينبار به رياست ناحيه نهم شاروالي كابل مراجعه نموده و طي نشستي با ميرزا قيام الدين رئيس آن ناحيه ضمن پرسشي پيرامون كار و فعاليت آن ناحيه طالب معلومات شده و اين گزارش را تهيه نموده اند كه غرض مطالعه شما ص ٤

### مجامع بين المللي بايد عوض موقفگيري هاي غير عادلانه در كاهش آلام خواهران ما سهيم گردند

محترمه دكتورس سهيلا «عرب»

شريعت : خوانندگان عزيز! خبرنگار اعزامي هفته نامه شريعت اخيراً گزارشي از شفاخانه اناثيه ولايت هرات ترتيب نموده كه اينك خدمت شما عزيزان تقديم ميگردد :

محترمه سهيلا «عرب» سرپرست بخش جراحي اناثيه شفاخانه حوزه وي ولايت هرات كه از تجارب و معلومات لازم مسلكي در بخش جراحي اناثيه، برخوردار است در آغاز سخن با رد اينگونه شايعات كه گويا طبقه اناث از پذيرش و عرضه خدمات صحي محروم هستند چنين گفتند : خواهران مسلمان ما، از پرسونل سرويس هاي طبي تا مراجعين و مريضان ، الحمد لله با ستر و حجاب ملبس بوده، زيرا اصل رعايت حجاب در كلتور افغانها ، زيور زنان با عصمت ما محسوب ميشود ، با اين مقررات شرعي ، در تمام كلينيك هاي ولايت هرات، روزانه دهها خواهر محجب بدون تبعيض و امتياز ، به كمك سرويس هاي خدماتي اناثيه تحت ٤ مخ

## سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

### له مخدرو موادو سره د غربي نړۍ مبارزه شكمنه ده

بې له شكه نيشه يي توكي د بشر لوی دښمن دی ، دين او دنيا يې دواړه تباه كوي؛ ددې تباهي په دليل كې بوازې دا بس دی چې په دغه افت اخته يو كس وروينو، د دين او دنيا حال ته يې پام وكړو پخپله به راته جوته شي چې دغه عمل حومره لويه تباهي ده . او هغه وخت سړی پوهيږي چې د عقل ارزښتناك جوهر او غمی يې څرنگه تش په تشه له لاسه وركړی دی؟ او روغ رمټ بدن يې څرنگه خوار و زار او په مرگوني حال ككړ كړی دی ؟

د انسان ددغو دواړو الهي نعمتونو بيه څوك پوره كولای نه شي خو هغه بدبخته انسان چې په دغه افت اخته شي عقل هم له لاسه وركوي چې د ښو او بدو بوازيني معيار دی ، د دنيا او اخرت د دواړو ژوندونو د سمون بوازيني لاربنود دی؛ او هغه بدن هم له لاسه وركوی چې د دواړو ژوندونو بوازيني عنصر او ما به الحياة دی ، د ژوند اصلی هدف ( د الله تعالی عبادت) په همدغه بدن تر سره ٢ مخ

---

### د ځمكي د ځيرني او نخشي اخيستني په عمومي رياست كي يو كمپيوتري كورس جوړيږي

د اينبودل شويو مابنونو د ځمكو د نقشو د برابرولو او تثبيت د څرنگوالي او د ځمكي د ځيرني او نقشي اخيستني د عمومي رياست د كاركوونكو لپاره په كمپيوتري سيستم د زده كړي د كورس د جوړولو د څرنگوالي په باب خبري اتري وشوي . ص ٤

### د پكتيا ولايت د احمد خيلو په ولسوالي كي يوه ديني مدرسه پرانستل شوه

د پكتيا ولايت د احمد خيلو ولسوالي د مدينة العلوم ديني مدرسه په دي وروستيو وختو كي د يو لړ مراسمو په ترڅ كي پرانستل شوه او د استفادي وړ وگرځيده .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راكړ ددغي مدرسي د جوړولو كار چي څه موده مخكي د احمد خيلو ولسوالي د مؤمنو خلكو په مالي همكاري سره پيل شوي وه په دي وروستيو وختو كي بشپړه او د يو لړ مراسمو په ترڅ كي پرانستل شوه . ٤ مخ

# شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه


## د سرمقالې پاتې برخه

کیږی د بشری ټولنې خدمت او د اخرت ژوند په همدغه بڼه ترسره اوښېرازه کیږی؛

له دی امله الهی شریعت چی د انسانی ژوند د لړی له پیل سره سم د انسان د دنیا او اخرت د نیکمرغی له پاره الله تعالی ورسره جوخت د خپلو غوره انسانانو ( پیغمبرانو علیهم الصلوة والسلام ) په لاس را استولی دی د عقل، بدن او له فساد نه د ټولنې په ژغورنه ډیر سخت تاکید او ټینگار کوی؛

محمدی شریعت ( صلی الله علیه واله و سلم ) چی تر قیامته پوری نافذ ( رسمی ) شریعت او د وختونو له غوښتنو سره پوره سمون لری له تباهی او فساد نه د عقل، بدن او بشری ټولنې په ژغورنه دومره ټینگار کوی چی د نړی په نورو اصولو او نورمونو کی یی ساری کم یا بیخی نه موندل کیږی ؛

قصاص او شرعی حدود یی د همدغه مقصد لپاره ټاکلی دی، د قتل، زنا، غلا، ظلم، چور او ورته فردی او ټولنیزو فسادونو او تباهیو په هلکه یی د بندیز ډیر سخت دریز له همدی امله غوره کړی دی، په عین کچه د شرابو او نورو مسکراتو په هکله یی چی هیروئین هم پکی شامل دی، د استعمال دریز د قتل، زنا او ورته فسادونو په څیر غلیظ او شدید دی؛

د افغانستان اسلامی امارت چی د الله تعالی د مقدس شریعت د حمایت او نفاذولو لپاره راپورته شوی دی او د هغه لپاره یی بی شمیره خپل گران سرونه قربان کړی، په لکونو لیستره خپلی پاکی وینی بی تویی کړی دی او لا تویوی یی ددغه مقدس شریعت په پیروی یی د ټولو نیشه یی توکو د استعمال په هکله دریز ډیر سخت نیولی دی، له همدی امله د اسلامی تحریک باتورو ځواکونو کابل ته د راتللو په وخت د قیمتی شرابو په زرگونو بوتلونه د ټانکونو تر چینونو لاندی ریز مریز کړل او د لکونو ډالرو د تاوان هیڅ پروایی ونه کړه، د هیروئینو د جوړولو کارخانونه یی وران او د ملیونونو ډالرو د بیی هیروئین یی د داخلی او بهرنیو خبریالانو په وړاندی وسوځول او د هیچا د خپگان پروایی ونکړه .

همدا رانگه یی د هیواد په ډیرو سیمو کی کرل شوی کوکنارو اړول او لا پسی اړوی یی د ا.ا.ا به د خپل پاک شریعت په پیروی د نورو منکراتو له منځه وړلو سره جوخت د نیشه یی او مسکرو ( مخدرو ) توکو په ورک کولو کی په اخلاص له خپل وس سره سم خپل کار ته دوام ورکوی او په دغه کار کی به د چا مخ او څټ نه گوری او نه به د چا د خوښی او خپگان پرا وکړی؛

امریکه او غربی نړی چی د مخدرو توکو په ضد د مبارزی چیغی وهی دغو چیغو ته زیات کتونکی د شک په سترگه گوری، دا ځکه چی ددغو توکو غوښتنه ( تقاضا ) هلته بیخی ډیره او بازار یی تود دی، داسی فکر کیږی چی امریکه او نوره غربی نړی ددغی زیاتی غوښتنی او تقاضا د تاوده بازار د مخ نیوی په هکله هیڅ نه دی کړی او نه یی کوی، همدارنگه ددغو توکو غرب ته د سوونو او زرگونو ټنو په کچه رسولو زمکنی او هوایی کرښی د امریکی او غربی نړی په واک کی دی د حیرانتیا خبره داده د چي مخنیوی په هکله یی څه کولی نه شی او که نه غواړی چی څه وکړی؟

فکر کیږی چی د ملیونونو ډالرو په دغه توده سوداگری کی به اورده لاسونه ( یا نفوذه واکمن ) ډیر څه تر لاسه کوی نو له دی امله ددی په ځای چی د خپلو په افت ککړو پوډریانو بوه معقوله علمی چاره وکړی په شرقی نړی پسی یی را اخیستی ده چی کوکنار دی نه کری، په تیره بیا د ا.ا.ا په هکله خوبی د فشار د یوی درنی حربی په توگه په کار اچوی، په افغانستان کی د کوکنارو کرهنه تاریخی ریښی لری خو د تباه کونکو هیروینو استخراج د سرخوولی شوروی د ناروا تیری په وخت کی رامنځ ته شو او دا احتمال ردیدلای نه شی چی د سیوسیالستی او کپیتالستی نظامونو د رقابت او دښمنی له امله د غربی بلاک د تباهی لپاره د کمونستی بلاک له پلوه په افغانستان کی دغه افت تشویق او پراختیا ورکړ شوی ده؛

اوس نو ددغسی یوه زورور او د بشری افت د مخنیوی لپاره ( که امریکه او غربی نړی په رښتیا سره غواړی ) یوه پیاوړی مبارزه ضرور ده چی په کار ولویږی په افغانستان پسی چی څومره په دغه هکله د سیاسی مقصدونو لپاره منفی پروپاگند کیږی د هغه په سلمه برخه مالی او تخنیکی مرسته نه ده ورسره شوی؛

یوه پیاوړی مبارزه هغه وخت ورسره پیل کیدای شی چی د افغانستان اسلامی امارت نړی په رسمیت وپیژنی، پوره اعتماد وریاندی وکړی، د مالی او تخنیکی پوره مرستو لړی پیل شی نو هله کیدای شی چی په تدریج سره دغه مبارزه د بری پړاو ته ورسیږی او که نه نو د افغانستان اسلامی امارت به په یوازی سر هم خپلی شرعی مبارزی ته دوام ورکړی.

انشاء الله تعالی

# روسان بیا په چیچنیا کی بخت آزمایی !

محمد سهیل

د روسی ځمکنی پوځ د چیچنیا د شمال له پلوه له دریو خواوو څخه د چیچن په خپلواک اسلامی هیواد یرغل پیل کړی دی. د روسی د یرغلگر حکومت د دفاع وزیر ایگور سرجیف په وینا تر اوسه یی د چیچن د اسلامی دولت پنځلس کلی نیولی نوموړی وایی چی د روسی پوځ تر اوسه پدي سیمه کي د چیچن د پوځ د مقاومت سره نه دی مخامخ شوی. لاکن ازاد خبری منابع لیکی چی په یوه نښته کی د چیچن مدافع پوځ لس تنه روسی یرغلگران وژلی دی.

د روسی ځمکنی برید د روسی د هوایی بریدونو د سلسلی وروستی کړی ده . تیر یو نسمه ورځ ده چی مسکو په پرله پسی ډول د چیچن په مسلمانانو باندی هوایی بریدونو ته دوام ورکوی مسکو وایی چی د مسلمان مبارزینو سنگرونه یی په نښه کړی خو د چیچن جمهور رئیس ارسلان مسخدوف دغه ادعا ردوی او وایی چی ددی حملو له امله ډیر بیدفاع خلک وژل شوی دی.

د روسی یرغلگر حکومت په مسکو کی وروستنی چاودنی ددی حملی لپاره د پلمی په توگه استعمالوی او وایی چی دغه چاودنی داغستان او چیچنیا که د مسلمان مبارزینو له خوا شوی دی خو تر اوسه یی پدی هکله هیڅ ډول ثبوت نړی ته ندی وړاندی کړی د چیچنیا جمهور رئیس ارسلان مسخدوف او دچیچن د مجاهدینو نامتو مشر شامل بسایف مخکی دغه تورونه رد کړی، دی وایی چی هیڅ دلیل او منطق اجازه نه ورکوی چی مسلمان مبارزین په مسکو کی د خلکو د اوسیدو په اپارتمانونو کی چاودنی وکړی ځکه دغه کار په داغستان کی د مسلمان مبارزینو د خپلواکی هڅو ته گټه نه رسوی بلکی بالعکس د روسیی پولیسو ته پلمه په لاس ورکوی چی په مسکو کی اوسیدونکو د قفقاز مسلمانانو ژوند تنگ کړی .

زیات تحلیل کوونکی د داغستان په مسلمانانو لگیدلی د چاودنو تورونه د کریملین له خوا طرحه شوی ډرامه بولی ځکه چی بوریس یلتسین هڅه کوی چی د روسی امنیتی وضع نا ارامه کړی تر څو په روسیه کی د راتلونکو انتخاباتو مخه ونیسی او پدی ډول نوموړی په قدرت کی پاته شی.

په هر صورت د ځینو غربی هیوادونو د استخباراتو ادارو مسکو ته وعده ورکړی چی په داغستان کی د مسلمان مبارزینو په ځپلو کی به ورسره مرسته وکړی. د چیچن په خپلواک اسلامی هیواد باندی د روسی د ځمکنی پوځ په یرغل کی به شایی ددغو استخباراتی ادارو تاکتیکی او استشاری مرستی شاملی وی.

خبری رپوټونه وایی چی د روسی د هوایی حملو له امله د چیچنیا د مهاجرینو شمیره ورځ په ورځ زیاتیږی . تر اوسه پوری تقریباً یو لک چیچنیایی مسلمانان گاونډی هیواد انگوشتیا ته وراوښتی دی چی هلته هم چیچن نژاد خلک اوسیږی.

په مسکو کی د ملگرو ملتونو د دفتر مشر ویلی چی د انگوشیتیا حکومت د ملګو ملتونو نه د مرستی غوښتنه کړی تر څو دغه هیواد ته د راتلونکو مهاجرینو ستونزی رفع کړی . لاکن د روسیی د اضطراری حالاتو وزیر سرگی شوگو څرگنده کړی چی هیڅ ډول نړیوالو غذایی او نورو مرستو ته اړتیا نشته، روسیه کولی شی جید مهاجرینو ستونزه پخپله حل کړی. داسی معلومیږی چی روسان غواړی نړی د دوی له جرایمو نه چی د چیچنیا په خپلواک هیواد کی یی پیل کړی ، بی خبره وساتی.

دچیچن د حکومت د ویاند له قوله روسی پخپلو چاری بمباریو سره زیات شمیر بیگناه خلک وژلی دی. له بلی خوا د چیچن مسلمان مبارزینو او د چیچنیا مسلمان ولس پتیلی ده چی یو ځلی بیا په پدي هیواد کی د روسیی پوځ ته عبرتناکه ماته ورکړی. همدا راز اوس د چیچن د مسلمانانو تر مینځ زیات یووالی موجود دی .

په چیچنیا د روسیی د ځمکنی حملي له امله د چیچن د جمهور رئیس ارسلان مسخدوف او د چیچن د مسلمان مبارزینو د قوماندان شامل بسایف تر مینځ هم هغه فاصله ختم شوی چی مخکی موجوده وه . شامل بسایف وایی چی د روسیی حملی مو د دی جوگه کړو چی دواړه په یو لاس د بهرنی یرغل په مقابل کی ودریږو او « وروکی خبری » یوی خواته وغورځوو .

په ۱۳۵۸ کال کی په افغانستان باندی د سره پوځ د یرغل او په چیچنیا باندی د روسیی د پوځ د یرغل تر مینځ په یوه برخه کی زیات ورته والی لیدل کیږی . هغه وخت هم ، کله چی سور پوځ کابل ته رسیدلی وو او د کریملین لاس پوڅی د هغه وخت د شوروی د ترمز په ښار کی میشت و ، د ازبکستان د رادیو له لاری یی اعلان وکړ چی د بهرنی گواښونو په مقابل کی مو د شوروی اتحاد ، نظامی مرسته غواړو ، تن هم په مسکو کی په اصلاح د چیچن پارلمان د روسی نه د نظامی مرستی غوښتنه کړی ده . دغه روس پلوه څوکسان چی په تبعید کی د چیچن پارلمان ځان بولی . په مسکو کی اوسیږی او په ۱۹۹٦ کال کی د چیچن مجاهدینو له هیواد نه شړلی دی . بیا وروسته د روسیی حکومت دوی د یوی هستی په توگه په مسکو کی وساتل او اوس یی دادی د کریملین په اوږو سر راپورته کړ .

حقیقت دا دی چی د نړی د مستکبرینو د یرغلونو او سازشونو نه د نړی د مسلمانانو د خلاصون لاره په وینو لړلی ده او ددی دین له رښتینو پیروانو نه قربانی غواړی. مسلمانان دی گمان نه کوی چی نړی به د ځنیځ تیمور د عیسوی مذهب **پیروانو په څیر دوی ته هم د ریفرنډم له لاری خپلواکی ورکړی او د هغوی د سرساتلو او حکومت جوړولو لپاره به نړیوال پوځ د هغوی په څنگ کی ودریږی، عینی حقایق به بل ډول دی.**

**مسلمانان به پخپلو وینو انقلاب گټی هم او ساتی به یی هم کـه ددغو دسایسو په مقابل کی یی د هوښیارتیا او قربانی روحیه له لاسه ورکړه، نو بیا پدی گرده نړی کی څوک نشته چی زړه پری وسوزوی.**

# ژورنالست و چشم انداز نوین

## اساس موفقیت ژورنالست را تخصص عملی در کار، وجدان پاك و تعهد تشکیل میدهد

(پیوسته به گذشته)

غلام سخی «اثمر»

ژورنالست که براي مبارزه فردا در مقابل رسانه هاي خبري غول آسا و تخنیك عصري خبر سازي و گزارش سازي آماده گی میگیرد در موازات با وجدان پاك ، باید تعهد و برده باري هم داشته باشد در رابطه با تعهد باید ابراز داشت که در آثارش باید وابستگي ناپاك نداشته باشد و تعهد او با مردم باشد، مردمیکه وي از عرقریزیهاي آنها معاش میگیرد و از برکت آن تحصیل کرده است تحمل به معنی این که تحمل دو بار و سه بار نوشتن اثرش را داشته باشد بار ها بدان مرور کند تا محصول دماغش به درد جامعه بخورد و مردم آنرا به پسندند، به این مثال توجه کنید : ژورنالستي داریم که میرود و واقعه ایرا که به ظهور رسیده به تفصیل قصه مي کند و فرداي آنروز ، در یکي از نشریه ها به نشر میرساند ، این گزارش که غالباً به عجله و بدون تامل زیاد نوشته شده است بدون تردید انتزاعي بوده و نمیتواند بدرد جامعه بخورد فرا تر از آن حتماً کاستي هاي ادبي و اصولي هم خواهد داشت .

ژورنالست دیگري داریم که با کمال حقانیت خود را خبر حادثه فکر مي کند، احساسش را با عوامل قضیه پیوند میدهد و اطراف و عوامل موضوع را زیرکانه و بگونه تعمیري و سوزنده تحلیل و ارزیابي مي کند و بعداً آنرا به نشر میرساند بدون تردید این گزارش که عامل عاطفه بگونه سالم با آن پیوند یافته است و جنبه احساسي آن بخواننده هم انتقال مي کند خواننده را مجذوب میسازد و خواننده هم خود را در جریان خواندن طرف قرار میدهد هر طرف را که بگیرد باز هم ژورنالست توانسته است خواننده را مجذوب گرداند . ژورنالست باید آنقدر توانا باشد که احساس خود را از قضیه و موضوع به خواننده انتقال دهد او را با خود شریك سازد ، گزارش باید آموزنده هم باشد و تا حدودي امکان دارد جوانب منفي موضوع را هم روشن کند و این بسیار ساده است ژورنالست ماهر بگونه مثال از یك تصدي گزارشي تهیه میدارد که بالاي آن صد میلیون افغاني مصرف شده است، این امکان وجود دارد که بنا بر عوامل عیني و غیر عیني یکمقدار پول بیجا مصرف شده باشد وي میتواند بگونه سوالی این پهلوي موضوع را مطرح سازد و اگر هیچ راهي نیافت این حق را دارد که بگوید با این و یا آن قیصدي معارف پروژه موافقت ندارد ، همین کافي است که در باره پروژه سوالها بمیان آید و ... صورت گیرد رسانه هاي جمعي حوال امارت اسلامي افغانستان در عمر بسیار کوتاه راه درازي را پیموده و اکنون به چشم سر مي بینیم که ستونهاي نظریات مردم، و نامه هاي آنها به نشر میرسند در مورد گزارش ژورنالست میتواند راههایي را جستجو کند که حقایق را بمردم برساند این یك حکم عام است و متخصص باین و یا به آن کشوري نمیباشد.

ژورنالست باید به این بسنده نکند که او را ژورنالست «پخته کار» و ورزیده میدانند باید کار هاي آینده اش را بیشتر جنبه ابتکاري بدهد اگر در یك محل توقف میکند به چراغي میماند که بالاخره مورد سوخت آن خلاص مي شود و خاموش میگردد .

ژورنالست باید کوتاه نویسي را عادت کند، کوتاه نویسي به هیچوجه به این معني نیست که مطالب تحقیقي ، علمي و هنري را حتماً کوتاه بنویسیم بلکه هدف این است تا حدود ایکه ممکن است آنرا کوتاه سازیم و این امر بیشتر در قصه نویسي ( داستان هاي کوتاه) و گزارش نویسي مطرح است و قصه و گزارشي که در آن بار بار یك موضوع با عبارات مختلف عنوان مي شود ملال آور است ولي اگر یك گزارش کوتاه نغز، منطقي و پر مفهومي را میخوانیم ولو که کوتاه هم باشد تاثیر بر انگیزاندن خود را داشته میباشد و خواننده را در وضعي قرار میدهد که از یك سطر به سطر دیگر با شوق و هوس چشمان خود را حرکت میدهد و آنرا میخواند یکتن متخصص ژورنالیزم باین عقیده است که هرگزارشي ، هر فلیتوني ... و بالاخره هر خبري را میتوان باز هم و باز هم کوتاه کرد. مدیران مسؤول و هیئت هاي تحریر در این رابطه مسؤولیت زیادي را به عهده دارند. مطالبي وجود دارد که خواهي نخواهي طولاني مي شوند مثلاً در یك گزارش سفري نویسنده مجبور است تمام خصوصیات کشور و یا ساحه را تشریح کند در این صورت کار طولاني مي شود ولي اصل مهم که عبارتوز اصل کوتاه نویسي و کوتاه کردن است بجاي خود میماند و داراي ارج بزرگ در عرصه ژورنالیزم است .

انساني که در آستانه قدم گذاشتن به قرن بیست و یك است آنقدر ها با مسایل عـدیده زنده گي روبرو است که مطالب طولاني را عملاً نمیتواند بخواند و حتي، آنقدر وقت ندارد و از رنج روزگار خسته است که تنها با دیدن عنوانها و تصویر ها کفایت مي کند و بس. پس یکبار دیگر میتوان بر زیبایي عنوان و انتخاب تصویر مطابق پالیسي نشراتي تعمق نمود .

اصل دیگر مهم براي مبارزه ژورنالست با شبکه هاي بزرگ خبري و تکنالوژي وسیع وسایل تخنیکي خبري این است که ژورنالست باید بداند که براي کي ؟ و براي چي؟ مینویسد . درك این امر او را توانایي میدهد که با صمیمیت کارش را به پیش ببرد سطح درك و آگاهي خوانندگان را بداند و با همان کلمات و جملاتي آثارش را زینت دهد که قابل فهم ، قابل هضم و بالاخره زیبا و خوشنما باشد. زیبایي در ساده گي، زیبایي در اخلاص و زیبایي در **صمیمیت ژورنالیزم مطرح است و بعد زیبایي هاي دیگر عرصه کار ژورنالستیکي .**

اصل دیگر این است که ژورنالست در گزارش راه حل را ارائه میدارد و خود را در آن شریك مي سازد مي شود این راه حل نادرست باشد و لي در هر صورت خواننده را به بحث و تعمق وامیدارد و حد اقل او را باقضاوتي روبرو میسازد که وي با آن موافق نیست و اگر این راه ارائه شده درست ، منطقي و مطابق وضع و شرایط عیني **باشد بر اعتبار و پرستیژ ژورنالست مي افزاید و او را نزد مردم محبوب مي سازد .**

**به امید پیروزي در این مبارزه، در مبارزه ایکه ژورنالست در پیشرو دارد و در سطور بالا از آن تذکر به عمل آمد.** ■

# د افغانستان په اړوند و سیاسي، پوځي اقتصادي او فرهنګي پېښو کرونولوژي (۲)

د ۱٤۱۹ هـق کال د جمادی الاخر له نهمی او د ۱۳۷۷ هـش کال د میزان د میاشتی له اوومی نه تر ۱٤۲۰ هـق کال د جمادی الاخر تر ۱۸ می او د ۱۳۷۸ هـش کال د میزان تر شپږمی نیټی پوری

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱ د ۱۳۷۷ هـش کال د میزان په ۲۹ مه اسلامی امارت اعلان وکړ چی عربی ناراضی اسامه بن لادن به محاکمه کړی خو په دی شرط چی امریکا د هغه د تروریستی عملونو ښکاره اسناد او شواهد وړاندی کړی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د میزان په ۳۰ مه د ملګرو ملتونو د مامورینو او اسلامی امارت د استازو تر مینځ په اسلام آباد کی خبری وشوی تر څو په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د مامورینو له پاره د کار شرایط برابر شی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۳مه د ۱۳۷۷ هـش کال د میزان په ۳۰ مه په واشنګټن کی امریکا د اسلامی امارت له استازی عبدالحکیم مجاهد نه وغوښتل چی اسامه بن لادن له افغانستان څخه وباسی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په لومړی نیټه مسعود تاجکستان ته لاړه تر څو په دوشنبه کی د ملګرو ملتونو د استازی اخضر براهیمی سره خبری وکړی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په لومړی نیټه د ارزګان ولایت شیعه استازو د یوی غونډی په ترځ کی خپل بیعت له اسلامی امارت سره اعلان کړ.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ٤مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲ مه اسلامی امارت د نړی د هیوادونو نه وغوښتل چی د ماینونو د پیرلو، پلورلو او بندولو تړون چی په اتاوا کی لاسلیک شوی عملی کړی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ٥مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۳ مه د ملګرو ملتونو استازی اخضر براهیمی له ترکمنستان څخه ابوظبی ته ورسید او هلته یی د افغانستان د حالاتو په باب د ابوظبی له مقاماتو سره خبری وکړی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۳ مه د افغانستان اسلامی امارت یوه اعلامیه خپره کړه په اعلامیه کی ویل شوی چی هر څوک د عربی ناراضی اسامه بن لادن په باب عرض، اسناد او شواهد لری د اسلامی امارت ستری محکمی ته دی ورکړی تر څو محاکمه شی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۳ مه د معیوبینو د نړیوالی ورځی په یاد د عالیقدر امیر المومنین پیغام صادر شو.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ٤ مه په حیرتانو کی د طالبانو د شهیدانو ډله ییزه قبرونه پیدا شول.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ٦ مه د اسلامي اردو په نامه د عالیقدر امیر المومنین له خوا یو پیغام صادر شو په پیغام کی ویل شوی و چی کم سنه او کم عمره طالبان چی ږیری یی نه وی راغلی باید د اردو له لیکو نه وویستل شی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۷ مه د افغانی سوداګر سید جلال په منځګړیتوب طالبانو او مخالفینو موافقه وکړه چی له دواړو خواوو څخه به زر زر تنه بندیان خوشی شی او هره ورځ به ۱٥۰ تنه له هر لوری څخه خوشي شي او هم به د دواړو خوا و څخه اوربند وشي.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱۲ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱۰ مه د ایران چارواکو اعلان وکړ چي ټول افغاني مهاجرین دي له ایران څخه ووځي.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱۲ ٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱۰ مه د افغانستان لویدیځ سرحد ته نژدې د ایران نظامی مانوری پیل شوی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱۳ مه د عالیقدر امیر المومنین د فرمان له مخی د کندهار له زندان څخه د مخالفینو ۱۰۸ تنه بندیان خوشی شول.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱۳ له اووه کلونو وروسته د کابل د پلخمری تر منځ تیلفونی اړیکی بیا ټینګی شوی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱۳ مه په کندهار کی له زندان څخه د مخالفینو ۱۰۷ تنه بندیان خوشی شول.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱٤ مه د ملګرو ملتونو استازی اخضر براهیمی د افغانستان په باب خپل رپوټ د امنیت شورا ته وړاندی کړ په راپور کی دا په ډاګه شوی وه چی په افغانستان کی [illegible] شوی دی په رپوټ کی د افغانستان او ایران د تاوتریخوالی په باب هم معلومات موجود و.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱٤ مه اسلامی امارت د اسامه بن لادن د نیولو یا وژلو په اړوند د امریکا پنځه میلونه ډالره جایزه د تروریزم له پاره تشویق وګاڼه.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱٦ مه عالیقدر امیر المومنین د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د رپوټ په باب چی مخکی اخضر براهیمی ورته وړاندی کړی و د یوی مرکی په ترځ کی وویل: په رپوټ کی په ډله ییزه توګه د هزاره ګانو وژل دروغ دی. د طالبانو په ډله ییزه وژنه ولی چا چورت خراب نه کړ کوکنار مخکی هم په افغانستان کي کرل کیدل خو چا څه نه ویل او د اسامه بن لادن په خلاف هیڅ ثبوت نه شته دی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۱۸ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۱٦ مه جنرال ملک په امریکا کی وویل: زه د طالبانو د ډله ییزه وژنی څخه خبر نه یم او دغه وژنه نورو تنظیمونو کړی ده.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲۲ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲۰ مه اسلامي اردو په تخار کي په خپلو مخالفینو سخته حمله وکړه او د تالقان د ښار دري کیلو متري ته یې ځانونه ورسول.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲۱ مه اسلامی امارت له ملګرو ملتونو نه وغوښتل چی د ایران له حکومت نه وغواړی چی افغانی مهاجرین په زور له ایران څخه ونه باسی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲۳ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲۱ مه عالیقدر امیر المومنین وویل چی: که امریکا د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژنی تو بیا به هم اسامه بن لادن ورتسلیم نه کړی.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲۲ مه د وحدت د یوې ډلی مشر استاد اکبری د خپلو ټولو قوماندانانو سره په بامیانو کی د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شو.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲۳ د سمنګانو په ولایت کی لس تنه مخالف قوماندانان د خپلو ٤۰۰ تنو وسله والو کسانو سره د اسلامی اردو له ځواکونو سره یو ځای شول.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲٥ مه د ۱۳۷۷ هـش د عقرب په ۲۳ مه مسعود د خپل ویاند ډاکتر عبدالله په وسیله د یو لیک په ترځ کي له امریکا څخه طالبانو په مقابل کی د نظامی مرستو غوښتنه کړي وه.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲٥ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲۳ مه د کانو او صنایعو د وزارت سرپرست مولوی احمد جان د یونان د CCC کمپنی سره د هرات د تیلو د ځا کیندلو له پاره یو تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون له پاره مولوی احمد جان یونان ته مخکی سفر کړی و.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲٤ مه د کندز د دشت ارچی ولسوالی، د بورکی ولسوالی او د اشکمش ولسوالی اسلامی اردو فتحه کړی او مخالفین د سختی ماتی سره مخامخ شوی چی یو شمیر مړی یی د جګړی په ډګر کی پاتی شول او د مخالفینو پلان شنډ شو.

د ۱٤۱۹ هـق کال د رجب المرجب په ۲٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د عقرب په ۲٤ مه د بهرنیو چارو د وزارت سرپرست الحاج ملا محمد حسن آخند د یو هیأت په مشری یو پلاوی قطر ته ورسید.

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ٤ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۲ مه د څرخی پله له زندان څخه د افغانی سوداګر سید جلال په منځګړیتوب د شورای نظار سل تنه بندیان خوشی شول.

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ٦ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ٤ مه د لوړو زده کړو د وزارت سرپرست مولوی حمد الله نعمانی د یو هیأت په مشری د امریکا د کالفورنیا په ایالت کی د طب پوهنتون سره یو تړون لاسلیک کړچی د نوموړی تړون له مخی به د کالفورنیا د طب پوهنتون د کابل او ننګرهار د طب د پوهنځیو سره مرسته کوی نوموړی مطلب مولوی حمد الله نعمانی د بی بی سی سره په یوه مرکه کی څرګند کړ.

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۷ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ٥ مه د ایران یو تن ورستی اسیر د ایران د سفارت مسوولینو ته وسپارل شو او په دغه ډول د ایران ټول ۷۰ تنه بندیان خوشی شول

د ۱٤۱۹ هـق کال د شعبان المعظم په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـش کال د قوس په ۷ مه د ملګرو ملتونو د سره صلیب د **کمیټی پخوانی رئیس د بهرنیو چارو د وزارت د مرستیال سره په خبرو کی وویل چی: ما د مزار شریف ښار له نژدی څخه ولیده** ټول خلک په کی آرامه ژوند کوی او کوم تکلیف په کی د بهرنیو راډیو ګانو په خوله نه شته دی په دغه کښته کی د سره صلیب د کمیټی نوی رئیس هم **موجود** و.

پاتی لري

## سفر نامه

## از کابل تا تاشکند

## دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان

## در اجلاس گروه ٦+۲ منعقده تاشکند

(۱۱)

احمد ضیأ "شریفی"

آقای براهیمی علاوه نمود: تفاوت ها بین شما است و باید این تفاوت ها و مشکلات را حل نمایید. اول اینکه مذاکره رویا روی ضرور است بخاطر اینکه جنگ مشکل را حل نمی کند و این مشکلات در یک و یا دو جلسه حل نمی شود باید ادامه داشته باشد و بی حوصله نباشیم. من میدانم شما بخاطر مذاکره نیامده اید بلکه بخاطر اشتراک در کنفرانس ٦+۲ آمده اید؛ ولی با صلاحیت عام و تام می توانید مذاکره نمایید و این صلاحیت از طرف رهبری شما به شما داده شده است. ما ملل متحد این را میگوئیم که هر دو طرف توافق نمایند که مذاکرات شان در آینده ادامه داشته باشد و هر چه زود تر مذاکرات تان آغاز گیرد بهتر است.

به رهبری خود بگویید که کشور های ٦+۲ می گویند که جنگ راه حل نیست و آماده گی که به جنگ بزرگ گرفته شده از آن صرف نظر گردد. لطفاً شما بگویید که در آینده در کجا می توانید که مذاکره نمایید همچنان بر علاوه کشور های همسایه قرغزستان، عربستان و دیگر کشور های عربی حاضر هستند که میزبان شما باشند.

سپس متقی صاحب به صحبت آغاز نمودو گفت: حرف های شما قابل قدر است و با آن حرف های شما ما موافق هستیم که صلح در افغانستان بیاید و این جای شك نیست افغانها حکومت سوچه اسلامي و وحدت ملي مي خواهند و جنگ مردم افغانستان را زیاد متضرر ساخته است و ما منتظر روزي هستیم که شنیده شود که جنگ در افغانستان خاتمه یافت.

ما طالبان هستیم و طالب تازمانیکه مجبور نشود تعلیم خود را رها نمي کند و در هر کشور که بي عدالتي زیاد شود محصلین به پا میخیزند و ما از مخالفین تقاضا داریم که به توافق برسیم که چطور مي شود جنگ را خاتمه دهیم و یکبار دیگر از مخالفین مي خواهیم که از مخالفت دست بکشند.

ما باید بالاي ملت خود شفقت و رحم کنیم زیرا آنها بعد از ظلم و ستم روسها توسط امریکا هم مورد هدف راکت قرار گرفتند و ما نباید آنها را هم مورد زجر قرار بدهیم. مردم افغانستان بخاطر این جهاد نکردند که استاد ربانی یا ... به قدرت باشندآنهابخاطر نظام اسلامي جهاد کردند و ما هم به نظام اسلامي اهمیت قایل میشویم و در قسمت حل مسئله افغانستان کوشش هاي ملل متحد را قدرداني مي کنیم.

به تعقیب صحبت هاي محترم متقي داکتر عبدالله حرفهایش را این طور آغاز نمود: ما خوشوقتیم که مجلس تاشکند زمینه مذاکرات ما را مساعد ساخت؛ ضرورت صلح را همه ما درك مي کنیم و همین مجلس ٦+۲ فعلي به این معني است که جهانیان علاقمند آمدن صلح در افغانستان هستند و ما هم درك مي کنیم جنگ بعد از خروج روس ها هم دوام پیدا کرد من فکر مي کنم که بعد از مجلس عشق آباد چطور مي توانیم که در راه حل مشکلات قدمي را بگذاریم مسئله مهم این است که از کجا آغاز نماییم.

آقاي اخضر براهیمي گفت: موضوع این است که چه ساختار دولتي وجود داشته باشد در حل مشکلات، در حالیکه هر دو طرف حکومت اسلامي مي خواهند، جنگ راه حل نیست هرگاه توافق کنیم که جنگ خاتمه و مذاکرات آغاز گردد فکر میکنم که پرنسیب هر دو طرف بجا است.

میشود که در مورد آتش بس، تبادله اسرا و ادامه مذاکرات صحبت شود و این تبادله اسرا به شکل سازماندهي شده باشد که لست هر دو طرف ترتیب گردد و به یکباره گي رها گردند نه بشکل انفرادي. و به همین ترتیب یك آتش بس صورت گیرد که بعد از آتش بس مذاکرات آغاز مي گردد و در قسمت به وجود آوردن نوع دولت شما را علما و افغان هایبکه در خارج اند کمك مي نمایند. حالا شما مي توانید که با قلب باز با هم صحبت کنید و من مجلس را ترك مي نمایم. هر زمانیکه به من ضرورت باشد براي من احوال بدهید من میآیم.

مذاکرات رو در رو بدون موجودیت کدام فرد خارجي آغاز گردید.

نخست داکتر عبدالله گفت: صحبت ها بار بار صورت گرفته و هدف آمدن ما و شما در تاشکند اشتراك در جلسه ٦+۲ است و ضمناً زمینه مذاکره مساعد گردید. اولاً سر موضوع مشخص که عملي باشد صحبت مي نمایيم.

در ارتباط صحبت براهیمي که چي میخواهیم و چه نوع حکومت مي خواهیم هر دو میدانیم و روي موضوعاتي که صحبت مي شود انعطاف صورت بگیرد تا توافق به میان آید و مذاکره ادامه پیدا کند و موضوع دیگر را که براهیمي اشاره نمود موضوع آتش بس، تبادله اسرا و ادامه مذاکرات است، در این زمینه نظر شما چیست؟

ادامه دارد

## مجامع بين المللي بايد عوض موضعگيري هاي غير ...

عمليات لازم جراحي قرار ميگيرند و پس از بستر شدن، معالجه و التيام، با استفاده از امكانات رايگان ، صحتمند و مرخص ميشوند.

سرويس جراحي بخش اناثيه اين شفاخانه مركزي با شش نفر خواهر دوكتور در شعب واقعات عاجل جراحي، واقعات روتين، اورتوپيدي، جراحي پلاستيك سنگ كيسه صفرا، سنگ گرده، گوش، گلو، عمليات، يورولوژي ماين زدگي، عمليات ولادي و نسابي و ساير عمليات جراحي، روزانه تنها در شفاخانه حوز وي از هژده الي بيست خواهر هموطن را عمليات نموده و مورد تداوي و مراقبت هاي جدي صحي قرار ميدهند.

**سر پرست بخش جراحي زنانه اين شفاخانه در پاسخ به سوال ديگر خبرنگار ما گفت : سرويس جراحي زنانه در بخش روتين روزانه، از هفت و نيم صبح الي شش عصر و همچنان با سرويس بيست و چهار ساعته ، در خدمت خواهران متدين قرار دارد و در صورت لزوم، از مشوره هاي سودمند و مسلكي محترم دوكتور شفيق شف بخش جراحي عمومي استفاده بعمل مي آيد كه ميتوانيم ادعا كنيم كار بخش جراحي ما كاملاً موفق و مورد اطمينان و رضايت خاطر خواهران مريض ما قرار دارد.**

**وي در مورد ساير تدابير جهت رسيدگي به احوال مريضان داخل بستر تاكيد ميكند : سعي و تلاش نهايي ما اينست تا خواهران رنجديده داخل بستر را با استفاده از شيوه ها و ابزار تبليغ سالم، از اهميت وقايه و از خطرات هجوم ميكروبها و شرايط حفظ الصحه آگاه سازيم.**

**محترمه سهيلا «عرب» بجاي پيام، اين حقيقت روشن و خواست مشروع را تكرار ميكند كه : موسسات و مجامع بين المللي بشمول نهاد هاي دفاع از حقوق زنان ، بايد بجاي موضعگيريهاي غير عادلانه، كمك هاي عملي خود را شامل سامان آلات و ادويه طبي براي تقويت سرويس هاي زنانه در افغانستان تشديد كنند و در كاهش رنجها و آلام خواهران ما عملاً سهيم گردند.**

«نجيبه فريادي»

## در شهر گرديز يكپايه ...

ميگردند.

كارلين دواني و تمديد شبكه هاي برق رساني در شهر گرديز و اطراف آن توسط انجنيران رياست برق ولايت پكتيا ادامه دارد.

## از مدرك اجاره حق العبور سمت شرق كابل مبلغ ...

**آن را به نشر ميسپاريم.**

محترم ميرزا قيام الدين رئيس ناحيه نهم شاروالي كابل سخنان خويش را چنين آغاز نمودند : حدود تحت قيموميت اين ناحيه را ساحه بين تنگي غارو پل چرخي الي سرك بين وزارت دفاع ملي و شش درك و از درياي كابل الي سرك عمومي ميدان هوايي خواجه رواش كابل احتوا ميكند.

كار و فعاليت كه توسط پرسونل اين ناحيه از آغاز سال ۱۴۲۰ قمري الي اكنون صورت گرفته است قرار ذيل است :

در بخش مديريت انجنيري : به تعداد ۲۵۹ خانه براي اخذ محصول صفايي قيمت گذاري شده و به تعداد ۱۶ منزل جهت اخذ ته جايي قيمت گذاري گرديده است همچنان به تعداد دو محراب مسجد شريف واقع ساحه پلچرخي و مكروريان سكيچ گرديده و به تعداد ۱۸ سكيچ به ارتباط پاركهاي صنعتي و جايداد هاي شخصي صورت گرفته علاوتاً از پنج باب منزل خود سر جلوگيري بعمل آمده و يك باب منزل به منظور خريد و فروش قيمت گذاري شده همچنان به تعداد ۳۶ منزل و ۵ باب چهار ديواري استملاكي تثبيت گرديده و ۲۰۱۶۸ متر مربع زمين استملاكي كه از سالهاي پيش به اين طرف به تصرف اشخاص و افراد بوده تثبيت شده و به منظور اخذ عوايد امارتي با آنها بر خورد قانوني صورت گرفته است .

در بخش مديريت عوايد : مبلغ ۶۹۹۰۴۱۸۵ افغاني از درك محصول صفايي و مبلغ ۱۰۴۰۰۰ افغاني ، ۱۸۰۹۵۰۰ و ۹۹۰۰۰۰ افغاني از مدرك قيمت كتابچه ملكيت ها ، فورمه عمرانات و جواز كار و مبلغ ۹۵۰۸۶۶۷ افغاني از مدرك اجاره زمين و همچنان ملغ ۲۴۱۲۶۵۲۵ افغاني از درك كرايه غرفه ها و مبلغ ۱۸۷۵۰۰۰ افغاني از مدرك كتابچه صفايي و مبلغ ۱۱۳۵۶۴۸ افغاني تكس اماكن و مبلغ ۴۶۰۰۰۰ افغاني جواز صنفي و مبلغ ۲۴۰۰۰۰ افغاني فيس مهندسين و مبلغ ۳۳۸۲۸۴۰۰۰ افغاني از درك اجاره حق العبور سمت شرق عوايد بدست آمده و به تعداد بيش از ۱۰۰ باب غرفه و كانتينر در ساحه ناحيه ۹ تثبيت كرايه گرديده و بعضي امور ديگر نيز انجام يافته است .

در بخش مديريت عمومي كنترول قيم: دكاكين تعداد بيست تن قصابان و هشت **تن خبازان به اثر تخلف از مقررات شاروالي مسدود گرديده و به تعداد ۲۰۰ دكاندار قصاب، خباز و غيره اصناف كه از مقررات وضع شده شاروالي كابل تخلف ورزيده بودند براي شان توصيه صورت گرفت .**

سيد يوسف

## قابل توجه علاقمندان زبان، فرهنگ و ادبيات

اداره شعر و ادب، رياست فرهنگ و هنر وزارت اطلاعات و فرهنگ در نظر دارد تا كورسهاي آموزشي ، ادبي و فرهنگي خويشرا مجدداً فعال سازد.

هدف از تدوير اين كورسها آشنايي بيشتر نسل جوان كشور از فرهنگ ، زبان و ادبيات پر بار وطن مان ميباشد كه در زمينه هاي مربوط به شعر ، سبكشناسي و نقد ادبي در زبانهاي دري و پشتو و ضمناً تاريخ ادبيات هرد و زبان تدريس صورت ميگيرد .

بايد ياد آور شد كه مسايل تدريس اين كورسها توسط سه تن از استادان مجرب پوهنځي زبان و ادبيات پوهنتون كابل پيشبرده ميشود و از شاگردان هيچ نوع فيس اخذ نميشود. علاقمندان و شيفته گان فرهنگ و ادبيات غرض آگاهي بيشتر و ثبت نام به نشانيهاي زير مراجعه نمايند.

اداره شعر و ادب رياست فرهنگ و هنر، شهر نو، كابل تيلفون ۳۰۰۱۸ . و يا رياست فرهنگ و هنر مقر وزارت اطلاعات و فرهنگ تيلفون ۲۰۳۵۲ .

تدوير كورسها به روز هاي چهارشنبه و پنجشنبه بعد از ظهر از ساعت ۲ الي ۳ بعد از ظهر صورت ميگيرد.

## مسعود بار ديگر به ...

نتوانست كمكهاي شان كدام زخم مسعود را مرهم خواهد گذاشت ، زود يا اندكي دير كشتي ظلم مسعود و تفنگدارانش در استانه غرق شدن بوده و براي ابد ملت مجاهد افغان از مصيبتش رهايي خواهد يافت.

## روسيه بر جمهوري ...

ضد روسي را تحمل ندارد.

چيچين بار ها گفته كه اگر رويه اشتباه قبلي خود را تكرار كند به سرنوشت بد و نا گوار روبرو شده كه جبران كردن آن برايش خيلي مشكل خواهد بود .

## باز سازي سيستم انرژي ...

روي دست گرفته شده است كه تا اكنون هفتاد فيصد كار برق رساني آن تكميل و متباقي كار آن به سرعت جريان دارد .

با رسيدن انرژي برق بخش هاي توليدي فابريكات و حدود ۲۲۰ نفر پرسونل آن بكار آغاز ضمناً در نظر است حدود ۳۵۰ نفر در موسسات مذكور جديداً بكار استخدام گردد با فعال شدن فابريكه پشمينه بافي افغان نياز مندي موسسات و هموطنان از نگاه توليد نخ پشمي، قالين، كمپل، تكه دريشي و ديگر منسوجات پشمي رفع و همچنان با فعال شدن فابريكات شخصي ضرورت تاجرين ملي از نگاه پروسس كشمش و صدور آن بخارج كشور نيز مرفوع ميگردد.

## سنگ تهداب يك پل جديد ...

رئيس دفتر وزارت امور خارجه، محترم مولوي فضل الرحيم رئيس عشر و ذكات ولايت ميدان وردك و تعدادي از اعضاي شوراي علماي آنولايت حاضر بودند با سر دادن نعره هاي تكبير گذاشته شد.

## د هندوستان له خوا ...

اتومي وسلو د درلودلو دعوي دروغ دي د تيري پنجشنبي په ورځ د ايشين ايج په نامه له يوه اخبار سره د يوې خصوصي مركي په ترځ كي د هندي واكمنو لخوا د سمندري پوځونو لري كړل شوي مشر وويل د بي جي پي حكومت ادعا كوي چي هندوستان يو اتومي قوت دي په داسي حال كي چي زه د خپلو ټولو تجربو او معلوماتو په رڼا كي په جرات سره ويلي شم چي له موږ سره د اتومي وسلي اساسي مواد بيخي نشته او دا ادعا يوه ټوكه ده . هندي واكمن چي نوموړي دعوي كوي نه يوازي دا چي د نړيوالو په سترگو كي خاوري اچوي بلكه د هندوستان خلك هم غلطوي او هغوي تير باسي . نوموړي د بي جي پي له حكومت سره د ځينو اختلافاتو د درلودلو له كبله له دندي گوښه كړل شوي دي.

## د پكتيا ولايت د احمد ...

په دي مدرسه كي اوس څه د پاسه پنځه سوه تنه طالب العلمان په نهاري او نور سل تنه د ليليي په توگه د اسلامي علومو په زده كړه بوخت دي. ددغي مدرسي د پرانستلو په مراسمو كي د محترمو عالمانو او د ولسوالي پر مسوولينو په گډون پر سيرو د سيمي په سلگونو تنو اوسيدونكو برخه اخيستي و .

## د كمكي د څيړني او ...

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د كمكي د څيړني او نقشي اخيستلو عمومي رئيس محترم مولوي محمد عابد نعماني پرون په اسلام اباد كي د يونيچا د ماين پاكولو اداري د دفتر له مسول شاغلي ان بولسيت سره د يوي غونډي په ترځ كي ددغه رياست د كار كوونكو لپاره په كمپيوتري سيستم د زده كړي د كورس د جوړولو او هم په افغانستان كي د ايښودل شويو ماينونو د ځمكو د تثبيت او د نقشو د برابرولو د څرنگوالي په باب د همكاري د پراختيا په **باره كي خبري وكړي او د وارو خواوو د خپلو همكاريو د لا پراختيا په باب تياري څرگند كړ .**

## سازمان ملل متحد و مجامع ...

سازمان ملل متحد و مجامع بين المللي از عدالت كار بگيرند و نبايد بيش از اين با شناخت غير قانوني حكومت فراري و از بين رفته رباني كه بالاي يكي از ولايات بطور مكمل كنترول ندارد ملت مجاهد افغانستان را رنج دهند آنان بايد هر چه زود تر خواسته هاي اكثريت مردم افغانستان و خصوصاً افغانهاي مهاجر مقيم اروپا را بر آورده ساخته و با برسميت شناختن امارت اسلامي زمينه تحكيم روابط نيك و حسنه را با كشور هاي اروپايي و غيره ممالك جهان مساعد سازند.

## افغانانان د لوړ استعداد ...

معلوماتو د لازياتوالي په تكل مو د نوموړي موسسي له مسول سره يوه مركه كړيده چي مهم ټكي يي ستاسي درانه حضور ته وړاندي كوو .

د افغانستان- تركيبي عالي مدرسي فعلاً د افغانستان په پنځو ولايتونو كي خپلو تعليمي او تربيتي خدمتونو ته ادامه وركوي دا هغه تحقي دي چي د تركيبي د مسلمانانو لخوا د مومنو افغان بچيانو لپاره هديه شويدي چي دغه مدارس د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په اجازه په داخل د افغانستان كي په فعاليت لگيا دي د افغانستان تركيبي مدارس هغه علمي موسسي دي چي د تركيبي د مسلمانانو په مستقيمه مرسته تاميږي .

محترم جلال الدين اوزر زياته كړه موږ د يوولس كلني څخه تر څوارلس كلني پوري شاگردان د اووم صنف لپاره په خپلو مدرسو كي قبلوو كله چي موږ د شاگردانو څخه د كانكور ازموينه واخلو بيا موږ د يو كال لپاره هغوي ته د ژبو ( تركي، عربي، انگليسي) زده كړه وركوو تر څو په آينده كي د كوم مشكل سره مخ نشي او كله چي دغه شاگردان زموږ د دوولسمو صنفونو څخه فارغ شي هغوي د افغانستان او تركيبي څخه علاوه په نورو هيوادونو كي هم دلوړو زده كړو لپاره منل كيږي. همدارنگه بايد ووايم چي موږ درك كړي چي افغان شاگردان د لوړ استعداد درلودونكي دي او موږ تصميم نيولي چي په راتلونكي كي به انشاء الله زموږ د مدرسو شاگردان په بين المللي سياليو ( قران كريم، فزيك، بيولوژي، رياضي، انگليسي ژبه او كمپيوتر) كي برخي واخلي او موږ پوره باور لرو چي انشاء الله ددي سيالي گټونكي به زموږ شاگردان وي .

## د متحده ايالاتو له لوري ...

زياتيدونكي توگه په دي باب چي مسكو د اسلامي مبارزينو د ځپلو په مقصد د چيچن په نيوني لاس پري كړي انديښمن شويدي.

واشنگټن هلي ځلي كوي دا پيغام روسيي ته ورسوي چي په چيچن كي بله هر اوږخيزه جگړه به يوازي په سيمه كي د زياتي بي ثباتي سبب شي . د امريكا د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت وياند جيمز روبن په دي باب وويل امريكا هلي ځلي كوي روسيي ته ځرگنده كړي چي ددغه شان حالت دوام به ناوړه عواقب ولري. د چيچين بيا نيونه به چي د روسيي عسكر پخوا له دغه ځاي نه شړل شويدي مناسب چلند نه وي . ده زياته كړه بايد د رښتينو تروريستانو پر خلاف اقدام وشي نه دا چي بي ځايه له وسله وال پوځ نه كار واخيستل شي ددي كار په نتيجه كي بيگناه خلك له خطر سره مخامخ كيږي او په چيچين كي د ۱۹۹۴-۱۹۹۶ كلونو سخته جگړه به له سره پيل شي. په وروستيو ورځو كي د چيچن په لسگونو تنو اتباعو د روسيي د هوايي بريدونو له ويري د تيښتي په نتيجه كي له **چيچين نه گاونډي سيمي انگوشيا ته پناه وړيده .**

| د گډون بيه له هيواد نه بهر | | |
|---|---|---|
| ملك | شپږ مياشتني | كلني |
| پاكستان | RS200 | RS400 |
| دخليج هيوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا او امريكا | US$75 | US$150 |

## تبصره

# مشكل (مبارزه با تروريسم) و (حفظ وحدت ملي) در روسيه

در چند هفته اخير وقايع قفقاز توجه رسانه هاي گروهي بين المللي را به اين نقطه از جهان معطوف داشته است حمله نيرو هاي روسي به مناطقي در نزيكي مرز داغستان با چيچن و بدنبال آن حملات هوايي به (گروژني) نشان از آن دارد كه كار فروپاشي اتحاد شوروي به همين حدو حدود فعلي آن محدود نخواهد ماند.

بدنبال حملات روسها به داغستان و چيچن و كشتن صد ها نفر از مردم غير نظامي شامل زنان پير مردان و اطفال، انفجار هايي در ماسكو، و بعضي از شهر **هاي ديگر روسيه رخ داد كه در نتيجه ان دهها نفر كشته و صد ها نفر مجروح و معلول شدند.**

روسها درين رابطه مسلمانان چيچن و داغستان را متهم دانستند تلويزيون و ساير رسانه هاي گروهي در روسيه مسلمانان را مسؤول اين اقدامات تروريستي قلمداد نموده و حتي تلويزيون روسيه بدنبال هر انفجار در چندين سرويس خبري خويش با نشان دادن تصاويري از ( اسامه بن لادن) و طالبان سوار بر موتر هاي **پاي فور مستقيماً اين اقدامات را به اصطلاح به ( شبكه بين المللي تروريسم اسلامي) نسبت داد .**

اين تبليغات بي اساس رسانه هاي گروهي در روسيه كه هدف از آن پوشانيدن ضعف دستگاه حاكم بر كرملين در حفظ امن و ثبات درين كشور است از طرف ساير رسانه هاي خبري در سطح بين المللي جدي تلقي نشد به همين علت انعكاسي در سطح بين المللي نيافت اما آنچه كه بسيار جالب بود اظهار نظر يكي از رهبران مسلمانان در داخل روسيه بود كه در مصاحبه با تلويزيون روسيه بصراحت گفت : « وقتي رهبران كرملين بروي مردم بيدفاع در چيچن و داغستان بمب خوشه يي مي ريزند و مردم را قتل عام ميكنند، در حقيقت خود تمايلات تروريستي را موجب مي شوند. شما نبايد تروريسم را با اسلام پيوند دهيد. بالاي پيروان هر دين و مذهبي كه ظلم شود بروز عكس العمل هاي از اين قبيل ممكن است بنا بر اين حتي اگر در رابطه با اين انفجار ها گروهي از مسلمانان هم دستگير گردند كه آنها اين عمل را مرتكب شده باشند اين كار رابطه يي با دين اسلام ندارد. اسلام قتل و **كشتار مردم بيدفاع را كه در جنگ شامل نيستند و هيچ نقشي در آن وقايع ندارند جداً تقبيح مي كند.»**

اين حرف درست است ولي در سراسر دنياي غرب رسانه هاي گروهي تحت تسلط صهيونيسم بين المللي سعي دارند تا چهره بسيار خشن از اسلام ترسيم نمايند و در چند سال اخير چهره يي مسخ شده و غير واقعي كه اين رسانه ها از **اسامه بن لادن در اذهان عامه غرب ترسيم نموده اند وسيله بي غرض تبليغ عليه اسلام است .**

هر چند روسها براي تحت تاثير قرار دادن ذهنيت مردم در داخل روسيه ساده ترين راه را درين مي بينند كه هر واقعه تروريستي در دخل اين كشور را به مسلمانان نسبت داده و آنرا نتيجه مستقيم دخالت خارجي و مخصوصاً طالبان قلمداد نمايد ولي در داخل روسيه نيز اين سوال مطرح است كه اگر اين ادعا ها درست باشد چگونه يك كشور تجريد شده، ويران شده و جنگزده يي چون **افغانستان كه خود نيز درگير جنگ داخلي است ميتواند امينت روسيه را بخطر مواجه سازد ؟**

با مطرح شدن اين سوال در حقيقت ماهيت نظامي كه امروز بر روسيه حاكم است زير سوال مي رورو كابوس افغانستان هنوز هم به اندازه دهه ۸۰ و دوران تجاوز روسها بر افغانستان براي مردم روسيه وحشت آور است .

كار تنها به تبليغات خلاصه نمي شود . در سراسر قلمرو روسيه هر كسي كه موي سياه و پوست تيره رنگ دارد مورد سؤ ظن است . هر مسلماني ميتواند يك تروريست باشد در موتر هر كسي كه چهره شرق دارد ميتواند مقداري مواد انفجاري پنهان شده باشد. از هر قفقازي، آذربايجاني، داغستاني تاجيك و ازبك و ترك و تاتار بايد بر حذر بود. در هر محله يي كه چنين شخصي زندگي مي كند بايد دقيقاً مورد تعقيب باشد و در اينجاست كه يك خلاي در حال گسترش ميان مليت **هاي مختلف كه در گذشته در چهار چوب اتحاد شوروي سابق با هم زندگي مي كردند ديده مي شود.**

در انيجاست كه نه تنها مردم مسلمان قفقاز هر روز بيش از روزديگر خود را از روسها جدا احساس مي كنند بلكه آندسته از مردم اين مناطق كه اكنون در قلمرو روسيه زندگي نموده و تابعيت روسيه را نيز دارند. به اين نتيجه مي رسند كه ريشه درين خاك ندارند. آنها بخاطر منسوب بودن شان به اسلام مورد تبعيض اند و **بعد از هر اقدام تروريستي پوليس به سراغ آنها مي رود و مورد تعقيب و آزار قرار مي گيرند.**

روسيه از يكطرف چيچنيا ، داغستان و ساير مناطق مسلمان نشين قفقاز را جزء لاينجزاي قلمرو خود مي خواند و از طرف ديگر با تمام قوت سعي در سركوب مردم اين مناطق دارد چيزي كه به هيچصورت نمي تواند با هدف حفظ وحدت ملي و تماميت ارضي روسيه همآهنگ و موافق باشد.

روسيه با نسبت دادن اقدامات تروريستي در داخل كشور به خارجيان مي **خواهد بزعم خود همين مشكل را حل كند و وانمود سازد كه اين وقايع از خارج سازمان دهي گرديده است چيزي كه هرگز واقعيت ندارد. نه امارت اسلامي افغانستان درين رابطه نقشي دارد و نه ( به ادعاي تلويزيون روسيه) بنياد گرايان وهابي عرب. تا زمانيكه رهبري كريملين در صدد سركوب مسلمانان قفقاز و ساير نقاط باشد عكس العمل هاي مخالف را نيز از طرف مردم آن مناطق موجب خواهد شد مگر اينكه در كريملين معقوليت جانشين وحشيگري به شيوه استالين گردد.**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Emirat Printing Press